Oregon Department of Justice's
CIVIL RIGHTS UNIT

# ابتدایی حقونه

په اوریګون کې هرڅوک ابتدایی حقونه لري کله چې د نفرت/تعصب پیښې یا جرم وروسته د سیسټمونو سره ښکیل کیږي. تاسې حق لرئ:

- ☐ د یوه ژباړونکي – که تاسې پولیسو، روغتونونو، عامه ښوونځیو، او کوم دولتي پروګرام یا اداري ته مراجعه کوئ چې فدرالي تمویل ترلاسه کوي، تاسې حق لرئ وړیا ژباړونکی ولرئ او کومې ژبې ته چې تاسې وغواړئ هغې ته ژباړل شوي مواد ترلاسه کړئ. (د مدني حقونو قانون عنوان VI، د معیوبیتونو لرونکي امریکایانو قانون)
- ☐ د درناوي او احترام ډک چلند درسره وشي.
- ☐ د لاسرسي وړتیا – تاسې حق لرئ په عامه استوګني ځایونو کې د مناسب سمونونو لپاره ستاسې غوښتنه ملاحظه شي که تاسې معیوبیت لرئ. (د معیوبیتونو لرونکي امریکایانو قانون)
- ☐ د خپلي خوښې ملاتړ فرد خپل طرف ته ولرئ. په ځینې چاپیریالونو کې د قانون له مخې ځینې استثنآت موجود دي؛ د مثال په توګه، د اوریګون قانون په لوی منصفه هییت کې یا د ماشوم سره ناوړه چلند مرکو کې د ملاتړ افراد منع کوي.
- ☐ پخپله د مدني قانون چل لاري تعقیب کړئ یا ولتوئ یا د یوه وکیل سره مشوره وکړئ یا وساتئ.
- ☐ قانوني پروسه او روښتیا کله چې د دولتي سیسټمونو سره راکړه ورکړه کوئ – پشمول د جرمونو په بشپړ ډول پلټل کیدل، د استیناف پروسو ته لاسرسی که چیرې د مرستو لپاره غوښتنلیکونه رد شي، او لکه څنګه چې د قانون له مخې مجاز وي عامه ریکارډ غوښتنه/ورته لاسرسی.

- □ غلي پاتې شئ، ګډون ونکړئ، یا د سیستمونو سره د خپلې ښکیلتیا سطح کنټرول کړئ – ځینې استثنآت هرو مرو شتون لري، پشمول د دې که تاسې احضار شوي اوسئ. په هرصورت، که تاسې د SNAP یا TADVS وغیره په څیر مرستو لپاره د ایالتي اداري سره یو غوښتنلیک پیل کړئ، تاسې کولی شئ د پروسې د دوام په اړه خپل ذهنیت بدل کړئ. تاسې کولی شئ خپل غوښتنلیک بیرته واخلئ.
- □ دا انتخاب وکړئ چې آیا د رسنیو سره وغږیږئ یا نه – دا ستاسې انتخاب دی. د نورو معلوماتو لپاره، مهرباني وکړئ [د رسنیو سره د راکړې ورکړې لپاره زموږ د یوې پاڼې غورچاڼ لارښوونې](#) وګورئ.
- □ د سیستمونو څخه غوښتنه وکړئ چې هغوی څنګه ستاسې محرمیت خوندي کړي، او/یا غوښتنه وکړئ چې ستاسې معلومات به چیرې شریک یا خوندي شي.
- □ ستاسي شخصي معلومات د ICE یا د فدرال د معلوماتو ادارو سره د ایالت یا د ځایی حکومت د کارمند یا د قانون تنفیذ لخوا د فدرال د مهاجرت تنفیذ موخې لپاره شریک نشي، غیرلدې که د یوه قاضي لخوا د لاسلیک شوي امر سره په مطابقت کې وي. (ORS 181A.820-181A.829)
- □ ستاسې د محافظت شوي طبقې پربنسټ ستاسې په وړاندې تبعیض ونشي – د اوریګون او فدرال قوانین د واقعیی او ګڼل کیدونکي محافظت شوي طبقې پربنسټ تبعیض منع کوي. د محافظت شوي طبقو لیست د دې مواردو له مخې مختلف دی چې تاسې چیرې یې – په کار کې، په ښوونځي کې، په هټۍ کې، په خپل کور کې وغیره.

دا د حقونو مکمل لیست ندی، او قانوني مشوره نه جوړوي. د نورو معلوماتو لپاره، [د وکیل سره مشوره وکړئ](#). تاسې همدارنګه کولی شئ [د نفرت/تعصب جرم قربانیانو لپاره زموږ د اوریګون د جرم قربانیانو د قانوني حقونو عمومي کتنه هم وګورئ](#).